# بُست

## علمي او څېړنیزه مجله

ټوک : دریم
گڼه : دوهمه
کال : ۱۴۰۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنیزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دریم ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۳**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون


**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسئول مدیر:** ډاکټر ذبیح الله انوري

**سردبیران:** پوهندوی دوکتور علي احمد احمدي او خان محمد وفا

**د مجلې بورډ**

- پوهندوی دوکتور عبدالوهاب حکمت
- پوهندوی عبدالعزیز صابر
- پوهنمل حنیف الله باوري
- پوهاند دوکتور خال محمد احمدزی
- پوهندوی رضوان الله مملوال
- ارسلان وطندار
- پوهنیار بشیر احمد بابازوی

**کتنپلاوي**

- پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
- پوهنوال نقیب الله مجددي
- پوهندوی دوکتور نجیب الله مجددي
- پوهندوی دوکتور علی احمد
- پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
- پوهندوی نیاز محمد زاهدي
- پوهندوی ګل محمد اعظمي
- پوهندوی عبدالولي هجران
- پوهنیار عبدالولي همت
- خان محمد وفا
- ډاکټر ذبیح الله انوري



**ډیزاین:** د بُست پوهنتون د څېړنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۳

**درک:** بُست پوهنتون، لښکرګاه، هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یواځې خپل محصلان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسې څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولنې د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څېړنیزي مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښېښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسې مسائل را برسیره شي، چې نه یواځې په پوهنتون پورې راګیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانګړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزي ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمې او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څېړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څېړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، یو خپرنیز ارګان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څېړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څېړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په ګاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخرې تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنګین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

## سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډېر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د دریم ټوک، دوهمي ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومې مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده او پوره باور لري چې د نننۍ نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسې، اکادمیک انستیتوتونه او څېړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅېړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې څوانانو ته معیاري او د لوړ کیفیت لوړې زده کړي وړاندی او د علمیڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کي ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کي معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څېړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مینه والو ته په مینه سره بلنه ورکوو چي ددی علمي او څېړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څېړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده نیوکي او مرستي د تل په شان راولوروئ او د علم ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي دیني، او ملي برخي د اداینې ویاړ راوبخښئ.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چي انشآ الله د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څېړنیز هاند لپاره اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښې خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښې و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

# لړلیک


| د مقالې عنوان | د صفحې شمیره |
| --- | --- |
| **د پلاستیک په واسطه د محیط ککړتیا او په لښکرګاه ښار کې د پلاستیکي کڅوړو د مصرف اندازه** ------- | 1 |
| پوهندوی عبدالولي هجران[1*]، حبیب الرحمن[2]، بریالي[3]، افتخار[4] | |
| **د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې د پنبې پر تولید د وچکالۍ اغېزې** ---------------------------------------- | 7 |
| پوهندوی دوکتور علي احمد[1*] او ارسلان وطندار[2] | |
| **Introduction to Farm Management and Its Importance** --------------------------------------------- | 16 |
| Sayed Abdul Wahab Saeedi[1*] and Mir Wais Nazari[2] | |
| **په افغانستان کې مشهوره زهري نباتات او پر اهلي حیواناتو باندې د هغو منفي اغېزې** -------------------- | 28 |
| محمدالدین خادم[1*]، پوهنیار عبدالفهیم سروري[2] او پوهنمل محمدآمان احمدزي[3] | |
| **د لښکرګاه ښار په دوو کلیوو کاریز او قلعه بُست کې د انګورو پرتله کولو اقتصادي تحلیل کال (1403)** ----- | 38 |
| پوهنوال نقیب الله مجددي[1*]، ارسلان وطندار[2]، پوهنیار بریالی رفیع[3] | |
| **An Overview of Introduction, Importance and Types of Natural Resources** -------------- | 52 |
| Dr. Mohammad Shafi Akhundzada[1*] and Mir Wais Nazari[2] | |
| **د هلمند ولایت په باباجي ولسوالۍ کې د ریحانو د تولید لګښت، ناخالصه ګټه، خالصه ګټه او مارکیټینګ چینلونو تحلیل ( کال ۱۴۰۲ )** --- | 61 |
| پوهندوي دوکتور علي احمد[1*] او امان الله نیازی[2] | |
| **د هلـــــمند ولایت په ناوې ولسوالۍ کې د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل کال (۱۴۰۲)** --------------- | 71 |
| میرویس نظري[1*] او محمدالدین خادم[2] | |
| **د سردار ګل محمد خان صنعتي پارک د ودې پر وړاندې خنډونه** --------------------------------------- | 80 |
| ارسلان وطندار[1*]، پوهندوی دوکتور علي احمد[2]، عبدالقدیر خادم[3] | |
| **د هلمند ولایت د اوبو د سیما طرحه** ------------------------------------------------------------------- | 88 |
| محمد یوسفي[1*]، ګل احمد احمدي[2]، فیض محمد فیضي[3]، عبدالحنان اغا[4]، شیراغا خپلواک[5]، خیرالله مزمل[6] او محمد اقبال[7] | |

# د هلمند ولايت د اوبو د سپما طرحه

محمد يوسفي[1*] ، گل احمد احمدي[2] ، فيض محمد فيضي[3] ، عبدالحنان اغا[4] ، شيراغا خپلواک[5] ، خيرالله مزمل[6] او محمد اقبال[7]

[1,2,3,4,5,6,7]اداره او تشبثات څانگي محصلان، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

مسؤل ايميل ادرس: yousufimohammad66@gmail.com

## لنډيز

د هلمند طبيعي سرچينې خاصتاً اوبه د خورا لوړ ارزښت څخه برخمني دي او دا چي په دې وروستيو کي د اقليمي تغيراتو بدلونونه او تاثيرات په پريمانه اندازه سره زيات سوي دي او د اوبو سرچينې يې د کموالي سره مخ کړي دي او د بلې خوا د خلکو د عامه پوهاوي نشتوالی او د حکومت د کمزوري او ناسم مديريت له وجي د اوبو سطحه ورځ تر بلې مخ په ټيټيدو ده او له امله يې کرونده گر، صنعت کاران، مالداران او کورنۍ اغيزمن سوي دي، چي د Triggering mechanism څخه په استفادې او معيارونه يې اقتصادي موثريت، د اوبو د سپما موثريت، پلي کول، منطقي والی او د تطبيق وړتيا ده. د همدې ستونزي د حل په موخه د اوبو د منابعو ساتنه، د ضايعاتو مخنيوی، د اوبو د کيفيت ښه والي ،د اقليمي بدلون اغيز کمول، د خلکو عامه پوهاوي او يو شمير نورو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره موږ پنځه طرحي وړاندي کړې. لومړی د اوبو سرچينو د زيرمو زياتوالی، دوهم د عصري اوبخور سيستمونو نصب کيدل، دريم د سيندونو او اوبو سرچينو پاک کاري، څلورم د تقاضا مديريت، پنځم د مرکزيت څخه غيري مرکزيت چي ددې جملې څخه د عصري اوبخور سيستمونو نصب او د زيات موثريت او د اوبو د سپما په برخه کي گټور تماميداى سي، نو د همدې اهدافو د لاسته راوړلو لپاره موږ تر 2044 ميلادي کال پوري ددې طرحي او پاليسی وړانديز کوو.

**کليدي کليمې**: اوبه، سپما، مديريت، بديلي پاليسی او SWOT Analsis

## سریزه

هلمند د خپل جغرافیایي موقعیت له امله د طبیعي سرچینو په ځانګړي ډول د اوبو سرچینو له پلوه بډای ولایت دی. د هلمند سیند اوبه، ځمکني اوبه ، باراني اوبه او د واورو ذخایر د هیواد په اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کي حیاتي رول لري. له دې سره د هلمند د اوبو د منابعو ارزښت د نړیوالو او سیمه ییزو لاملونو له کبله خورا زیات دی، ځکه چي دغه ولایت په یوه ستراتیژیک موقعیت کي پروت دی. د اوبو منابع نه یوازي د هلمند د کرني او اقتصاد لپاره مهمي دي، بلکي د ګاونډیو ولایتونو په اقتصادي او سیاسي اړیکو کي هم حیاتي اهمیت لري.

له تاریخي پلوه د هلمند ټولنیز او اقتصادي جوړښت د اوبو سرچینو سره تړلي دي. په هلمند کي د کرنیزو اوبو د وېش سیستمونو لکه کاریزونه او کانالونه، په زرګونو کلونو کي یو له هغه برخو څخه وو، چي خلکو ته یې د کرهني پراختیا، خوراکي خوندیتوب او د ژوندانه د اړتیا په پوره کولو کي مرسته کړې ده. په هر حال د څو لسیزو جګړو، سیاسي بې ثباتی او اقتصادي بې ثباتی له امله د هلمند د اوبو مدیریت اغېزمنتوب په زیاتیدونکي توګه اغېزمن سوي دي او همدارنګه د اوبو د ضایعاتو کچه خورا لوړه سوې ده، د ځمکي لاندي اوبه کمي سوي دي او په ځینو سیمو کي د اوبو زیرمو وضعیت کړکیچن سوی دی. (Horrigan et al., 2023)

اقلیمي بدلون هم د هلمند د اوبو د منابعو په وضعیت مستقیمه اغیزه لري. د بارانونو بې ثباته حالت، د واورو د ذوبیدو زیاتوالی او د اوبو د سرچینو کموالی او یا نشتون په ځانګړي وختونو کي د وچکالی او سیلابونو ستونزي رامنځته کوي. ددغه اقلیمي ننګونو په وړاندي یو اغېزمنه او عملي پالیسي چي د اوبو سرچینو ساتنه، ښه کارونه او خوندیتوب لپاره عملي حل لاري وړاندي کړي ډېر اړین دی. د اقلیمي بدلونونو په وړاندي د تطابق او مقاومت ځواک لوړول به د هیواد د کرهني ،مالداری او انرژی په برخه کي اغیز ولري او د خلکو ژوندانه ته به د بهتری زمینه برابره کړي.

اقتصادي اهمیت: هلمند یو کلیوال اقتصاد لري چیري چي د نفوس لویه برخه په کرنه او مالداری بوخته ده، د کرهني وده او خوراکي خوندیتوب په مستقیم ډول د اوبو له شتون سره تړاو لري . په همدې توګه د اوبو د پالیسی جوړول د هلمند د پرمختګ لپاره یوه ستره اړتیا ده تر څو د کرنیزو تولیداتو ښه والی، د مالداری پراختیا او د نوي ټکنالوژی په مرسته د اوبو د ضایعاتو کمښت ته لاره هواره کړي.

سیاسي او سیمه ایز اهمیت: د هلمند اوبه د ګاونډیو هیوادونو سره د سیمي د سیاسي اړیکو او ډیپلوماسی په برخه کي هم مهم رول لري. د افغانستان په سیندونو کي اوبه ځیني ګاونډي هیوادونو ته هم وربهیږي چي له همدې امله د اوبو وېش او د منابعو مدیریت سیاسي ننګوني رامنځته کوي، د یوې اغېزمني پالیسی جوړول چي نه یوازي د افغانستان ګټي خوندي کړي، بلکي د ګاونډیو هیوادونو سره د اوبو په اړه په همکاری کي هم ونډه ولري ډېر اهمیت لري.

په همدې توګه د هلمند د اوبو د سپما طرحي جوړول یوه ملي اړتیا ده چي د اوبو منابعو ساتنه او پایښت تامین کړي، اقتصادي وده وهڅوي او ټولنیز عدالت یقیني کړي دا پالیسي باید د نړیوالو معیارونو او ملي اړتیاوو په رڼا کي جوړه سي تر څو د اوبو د ضایعاتو مخنیوی، د منابعو اغیزمن مدیریت او د راتلونکو نسلونو لپاره د اوبو خوندیتوب تضمین کړي. ددې پالیسی جوړول به د ملي ادارو، نړیوالو سازمانونو او محلي ټولنو تر منځ همکاری او شراکت ته اړتیا ولري تر څو هر اړخیزه، عادلانه او دوامداره حل لاره رامنځته سي(د افغانستان د څېړنو نړیوال مرکز، 2023) او (Asad, 2002).

**د هلمند د اوبو کمیت او کیفیت:**

هلمند ولایت د افغانستان په سویل کي موقعیت لري او د هیواد تر ټولو اوږد سیند یعني هلمند سیند ددې ولایت له مهمو اوبو سرچینو څخه ګڼل کیږي. دغه سیند د 1150 کیلو متره اوږدوالي سره د افغانستان په سویل لویدیځ کي تیریږي او په هلمند، کندهار او نیمروز کي د اوبو مهمه سرچینه ده.

**کلني د اوبو کمیت:** کلني اوبه د باران، واورو او نورو سرچینو له لاري د 9 میلیارده متره مکعبه په اندازه تخمین کیږي په وچو کلونو کي دغه اندازه کمیږي او په باراني کلونو کي بیا اضافه کیږي (د هلمند عمومي حوزوي ریاست ډاټا).




**۱ شکل: د هلمند اوبو سرچینې په میلیارد متر مکعب**

**په فصلونو کې تغیرات:** د ژمي د موسم په اواخرو او د پسرلي په موسم کې د اوبو کچه زیاته وي او په ترتیب سره د اوړي او د مني په موسم کې د اوبو کچه ټیټېږي.

**کیفیت یې:** اوبه د څښاک لپاره : د څښاک لپاره د اوبو کیفیت په ځینو سیمو کې مناسب وي، خو په ځینو نورو سیمو کې د درنو فلزاتو او کیمیاوي موادو شتون په لرلو سې چې د انسان لپاره زیان رسوي.

**د کرنې لپاره اوبه:** د هلمند سیند اوبه د کرنې لپاره تر ډېره بریده مناسبې دي (Afzali et al., 2022).

تر 2050 میلادي کال پورې د افغانستان د اوبو تقاضا د 40-80 سلنې پورې رسیږي چې له مخې به یې د نړۍ د تودوخې په درجه کې د 2.8 څخه تر 4.6 درجې ګرمي نوره هم زیاته سي (world resource institute).

**د ستونزي تشریح (Problem Identification):**

د اوبو د سپما په برخه کي د هلمند د مخکښو ستونزو تفصیل په لاندي ډول دی :

د هلمند ولایت د اوبو کمښت یوه جدي او د اندیښنې وړ ستونزه ده چې ددې سیمې د خلکو ژوند، اقتصاد او چاپیریال یې له کلونو راهیسې اغیزمن کړې دي. دغه ستونزه د اقلیمي بدلون، وچکالیو او د اوبو ناسم مدیریت له امله لا شدیده سوې ده. اقلیمي بدلون د بارانونو کچه را ټيټه کړې ده او د موسمونو بې نظمۍ د اوبو طبیعي سرچینې کمزوري کړي دي. د باران او د واورو د کچې کمښت په ځانګړې توګه د هغه غرنیو سیمو لپاره یو لوی زیان دي چي د هلمند سیند د اوبو د تامین اصلي سرچینې دي.

ددې تر څنګ د کرنې په برخه کې د اوبو د ناسم استعمال له امله ډېري اوبه ضایع کیږي. دودیز او زاړه اوبخور سیستمونه نه یوازي دا چې د اوبو کمښت زیاتوي، بلکې د خړوبولو په پروسه کې هم زیاته نیمګړتیا راولي. د عصري اوبخور سیستمونو نشتون ددې ستونزي په لاخرابیدو کې مهم رول لري. په سیمه کې د اوبو د ذخیري لپاره د کافي زیربناوو نشتون یوه بله ستونزه ده. د اوبو د زیرمتونو نشتون ددې لامل سوی چې خلک د باراني او موسمي اوبو زیرمه کولو توان ونه لري چې پایله کې د وچکالیو پر مهال د اوبو بحران نور هم ژور سوی دي.

هلمند د وچکالیو د څپو سره په دوامداره توګه مخ دی.

**د ستونزي مسله:**

په هلمند کې د اوبو د سپما مسئله یوه جدي او تر ټولو لویه او پیچلې ستونزه ده چې ددې سیمې په اقتصاد، کرنه او د خلکو په ژوند یې مستقیم اغیز کړی دی. ددې ستونزي لومړنی عامل د اقلیمي بدلونونو اغیز دی. په تیرو څو لسیزو کې د هوا د تودوخې لوړیدل او د بارانونو کموالی د اوبو زیرمو په کمیدو کې مهم رول لري. دا بدلونونه د هلمند سیند پر جریان او نورو اوبو سرچینو منفي اغیز کړی دی. چې د کرنیزو فعالیتونو د کمزوري کیدو سبب سوی دی.

د اوبو کمښت یوه بله لویه ستونزه په هلمند کې د زاړه او غیر موثر اوبو لګولو سیستم دی، د اوبو لګولو زاړه سیستمونه ددې لامل سوی چې اوبه په غیر موثر ډول وکارول سي او ضایع سي. دا سیستمونه د کرنیزو ځمکو د اوبو لپاره مناسبه حل لاره نه برابروي چې په پایله کې یې کرنیزې ځمکې اغیزمنې سوې دي.

چاپیریالي زیانونه هم د اوبو د کمښت په ستونزه کې رول لري. د ځنګلونو پرې کول، د طبیعي سیمو تخریب او غیري مسوولانه د کرنیزو فعالیتونو اجرا د اوبو زیرمو د خرابیدو سبب ګرځیدلی دی، دا کړنې د ځمکې د تخریب او د اوبو د کموالي لامل سوی دی چې د سیمې د طبیعي توازن په خرابېدو کې هم مهم رول لري.

د اوبو مدیریت په هلمند کې د یوې جدي ستونزې په توګه را څرګند سوی دی. د حکومت او محلي ادارو لخوا د اوبو ضعیف مدیریت او د شفافو پالیسیو نشتون د اوبو د مناسب وېش مخه نیولې ده. غیری قانوني د اوبو ویشل او د مدیریت کمزوري اقدامات د اوبو د موجودو سرچینو په کمولو کې مهم رول لري.

د هلمند سیند د اوبو پر سر د ایران او افغانستان تر منځ اوبیزه لانجه ددې ستونزې یو بل اړخ دی. دا شخړې د اوبو مدیریت لپاره یوه ستره ننګونه ده چې د اوبو د منابعو د موثر مدیریت او پالیسۍ نشتون ته یې زمینه برابره کړې ده، ددې شخړو له کبله د اوبو مناسب او شفاف مدیریت نه دی سوی، چې په نتیجه کې یې د اوبو کمښت لا زیات سوی.(Damla, 2024).

په پایله کې د اوبو کمښت ستونزه، د هلمند ولایت په کرنه، اقتصاد او د خلکو په ژوند باندې منفي اغیز کړی دی. ډېری کورنۍ د اوبو د کمښت له امله د کډوالۍ او د خپلو اقتصادي فعالیتونو پرېښودو ته اړ سوي دي. ددې ستونزې د حل لپاره اړینه ده چې د اوبو مناسب مدیریت ته لومړیتوب ورکړل سي، چاپیریالي اقدامات عملي سي او مډرن د اوبو لګولو سیستونه عملي سي تر څو د اوبو ضایع کیدل را کم سي.

**د ستونزي د Triggering mechanisms تشخیص:**

په هلمند کي د اوبو مدیریت او سپما اړوند ستونزي د Triggering Mechanism پر بنسټ د لاندي داخلي او بهرني عواملو په واسطه پیژندل سوي دي.

**داخلي عوامل:**

1. طبیعي افت: په هلمند کي په پرلپسې توګه وچکالي او سیلابونه د اوبو سرچینو په کموالي او د اوبو د کیفیت په خرابیدو کي مهم رول لوبوي دا طبیعي افتونه د کرنیزو حاصلاتو په کموالي او د اوبو په سرچینو باندي فشار زیاتوي.
2. اقتصادي ناورین: د اقتصادي ستونزو له امله ډېرو کرونده ګرو او کلیوالي ټولني د اوبو د عصري مدیریت او سپما لپاره کافي سرچینې نه لري. د اقتصادي محدودیتونو له کبله د اوبو مدیریت کي د ټکنالوژیکو پرمختګونو څخه کار اخیستل ستونزمن کیږي او دا د اوبو د ضایعاتو په مخنیوي کي مرسته کوي.
3. په هلمند کي د ټکنالوژۍ کمزوري پرمختګ: د اوبو مدیریت لپاره د مناسب ټکنالوژیکي حل لارو نشتون، د اوبو د منابعو په کمزوري مدیریت کي مهم عوامل دی. د اوبو د سپما په برخو کي د نوي ټکنالوژۍ نشتون د زراعت په سکتور کي د عصري ټکنالوژۍ څخه کار نه اخیستل د اوبو ستونزي لا پراخوي.
4. ټولنیز تکامل: دټولني په کچه د اوبو اهمیت ته نه پاملرنه او د خلکو د پوهاوي کموالي د اوبو ناسمه استفاده او د اوبو سپما ته نه ژمنتیا د اوبو د سرچینو پر مدیریت باندي منفي اغیز لري.
5. ایکالوژیکي بدلون: د چاپیریال او طبیعي سرچینو په جوړښت، تعاملاتو او وضعیت کي هغه تغیرات دي چي د انسان د فعالیتونو ، اقلیمي بدلونونو او طبیعي پدیدو له امله رامنځته کیږي. په هلمند کي د ایکالوژیکي بدلون موضوع په ځانګړي توګه د اوبو مدیریت او سپما په برخه کي مهمه ده ځکه چي دا بدلونونه د اوبو سرچینو، کیفیت او موجودیت باندي مستقیم اغیز لري.

**بهرني عوامل:**

1. اقتصادي شخړي: د سیمه ائیزو او نړیوالو اقتصادي شخړو اغیزې د هلمند پر اقتصادي وضعیت او د اوبو پر مدیریت باندي منفي اغیز لرلای سي. دا اقتصادي شخړي د نړیوالو مرستو کمښت او د داخلي پانګونو کمښت سبب کیږي چي د اوبو په مدیریت کي ستونزي زیاتوي.
2. غیري مستقیمي شخړي: په هلمند کي د سیمه ائیزو شخړو او د امنیتي وضعیت خرابوالی، د اوبو د زیرمو په ساتنه او د مدیریت په چارو کي خنډونه رامنځته کړي دي. غیري مستقیمي شخړي د زیرمو د مدیریت، د اوبو د تصفیو پروژو او د اوبو د سپما پروګرامونو لپاره خطرونه رامنځته کوي.
3. د وسلو د صنعت وده: په سیمه کي د وسلو د صنعت وده او د نظامي شخړو زیاتوالی د اوبو سرچینو ته زیان رسوي. دا شخړي د اوبود زیرمو د تخریب، د زیرمو د ناسمي استفادې او د اوبو د سرچینو د ککړتیا سبب ګرځي او د اوبو پر وړاندي یې کیفیت او کمیت ته زیان رسیږي.

**د Triggering mechanism elements :**

**لوړی ساحه:** د هلمند ولایت په مربوطاتو کي د موسی قلعه، نوزاد، مارجه، خانشین او دیشو ولسوالي ډېري اغیزمني سوي دي.

دوهم شدت: په 2018 کال کي یې شدت کم خو پیل یې د همدې ځایه وو. په 2019 میلادی کال کي شدت تر منځني حالت کم د اوبو کمبود ورسره مل وو د اوبو کموالی احساس سو. په 2020میلادی کال کي شدت منځنی سو، د اوبو کمبود لا زیات سو، د اوبو سطحه ټیټه سوه او د زراعت حاصلات کم سول. په 2021 میلادی کي شدت تر منځني حالت لوړ سو. په 2022 کي شدت لوړ سو او په 2023 کي لا لوړ سو( د هلمند عمومي حوزوي ریاست ډاټا)




**۲ شکل: د اوبو د کمبود ساحې**

**دریم وخت:** په هلمند ولایت کي د اوبو کمښت او اقلیمي بدلون د 2018 میلادي کال څخه را په دې خوا په تدریج سره په خورا چټکی مخ پر ودي روان دی (UNDP,2019).




**۳ شکل: د اوبو د کمبود ساحې (۲۰۱۸-۲۰۲۳)**

**څلورم مالي سرچینې:** د هلمند ولایت د اوبو د ستونزي لپاره د مالي سرچینو محدودیت یو له مهمو عواملو څخه دی، د اوبو مدیریت او

زیرمو لپاره کافي بودیجې نشتوالی ددې سبب سوی چې اوبه په موثره توګه اداره نه سي. په ځینو مواردو کې د اوبو دزیرمو او وېش لپاره شته بودیجه په سمه توګه نه مصرفیږي چې دا هم ستونزه لا پسې زیاتوي. د ملي او سیمه ایزو حکومتونو د مالي مرستو او نړیوالو موسسو د ملاتړ نشتوالی هم ددې ستونزې حل کول سختوي(د هلمند سیندیزې حوزې لوی ریاست ډاټا)




۴ شکل: مالي سرچینې (۲۰۱۸-۲۰۲۳)

**ولي دا ستونزه ده؟**

د اوبو ضایعات په هلمند کې یوه جدي ستونزه ده چې د دې ولایت د اقتصادي، ټولنیز او چاپیریالي پرمختګ لپاره زیانمن تمامیږي. دا ستونزه ځکه ډېره مهمه ده چې د اوبو د منابعو کمښت او د اوبو ناسم مدیریت د هلمند د اوسېدونکو ژوند، کرنیزو چارو او عمومي چاپیریال باندې مستقیم اغیز لري (د هلمند سیندیزې حوزې لوی ریاست معلومات).

**ښکیل اړخونه Interest Groups:**

د اوبو د ضایعاتو د مدیریت په مسئله کې بېلابېل اړخونه او برخې دخیلې دي چې هر یو یې په هلمند کې د اوبو د پایداره کاروني او د اوبو د منابعو په کارونه کې خپل ځانګړی رول لري. دا ښکیل اړخونه په ځانګړي ډول د اوبو د سرچینو پر مدیریت، د اوبو د کیفیت ښه والي او د اوبو د سپما پر تدابیرو باندې مستقیم اغیز لري. دلته دټولو ښکیلو اړخونو څخه کرونده ګر، مالداران، صنعت، طبیعت، کورنۍ او نور د یادونې وړ دي.

**د پالیسۍ اهداف او د طرحې د ارزونې معیارونه:**

د افغانستان د اوبو د ضایعاتو د ستونزې د حل د اوبو د پایداري کاروني د یقیني کولو لپاره یو لړ اساسي اهداف ټاکل سوي چې د هیواد د اقتصادي، ټولنیز او چاپیریالي پرمختګ لپاره مهم ګڼل کیږي. دا اهداف د اوبو سرچینو د ساتنې، د اوبو د کیفیت د ښه والي او د اوبو د مصرف د اغیزمنتیا په برخه کې مهم رول لري:

- د اوبو د منابعو ساتنه او پایداري کاروني یقیني کول.
- د اوبو د ضایعاتو مخنیوی او اغیزمن مصرف
- د اوبو د کیفیت ښه والي.
- د اقلیمي بدلونونو اغیز کمول.
- د زراعت او خوراکي خوندیتوب ملاتړ.
- د اوبو د مدیریت لپاره د خلکو پوهاوی لوړول.
- د اوبو مدیریت او زیرمو لپاره مالي سرچینې زیاتول.

**د ارزونې معیارونه:** د اوبو د ضایعاتو د مخنیوي او مدیریت لپاره د پالیسۍ ارزونه یو مهم ګام دی چې د پالیسۍ د اغیزمنتیا او بریالیتوب د اندازه کولو لپاره ترسره کیږي د ارزونې معیارونه باید د پالیسۍ د اهدافو، د پلي کولو، پایلو او د ټولنې پر اړتیاوو باندې متمرکز وي. دلته د یوې اغیزمنې پالیسۍ ارزونې لپاره ټول اړین معیارونه وړاندې سوي دي، چې دغه معیارونه اقتصادي موثریت، د اوبو د سپما موثریت، د تطبیق وړتیا، پلي کیدل او منطقي والی دی.

**د بدیلو پالیسو (Policy alternative) وړاندې کول:**

KPI: د اوبو ضایعات د 40 سلنې څخه 30 سلنې ته کمول. په کلني ډول د اوبو لاسرسي د 35 سلنې څخه تر 40 سلنې زیاتول

**د محلي اوبو د زیرمو د ساتنې او مدیریت طرحه-Community Based water storage and management plan :**

**خلاصه:** دا طرحه د محلي خلکو او ټولنو په مرسته د اوبو د زیرمو جوړولو او ساتنې باندې تمرکز لري، دا طرحه به محلي حوضونه، بندونه او زیرمې جوړې کړي چې باراني اوبه ذخیره کړي او بیا یې د وچکالۍ پر مهال وکاروي. دا طرحه د افغانستان د کلیوالي سیمو لپاره مناسبه ده، چیرې چې خلک د اوبو د کموالي او موسم د بدلونونو سره مخ دي.

**د طرحې سټایل:** عادي یا routine دی.

**SWOT Analysis:**

Strengths ځواک: د اوبو د لاسرسي زیاتوالی او د سیمې د اوسېدونکو تر منځ د اعتماد زیاتوالی.

Weaknesses کمزوري: محدود ظرفیتونه، د لویو زیرمو جوړولو لپاره د تخنیکي وسایلو کمښت.

Opportunities فرصت: د ځايي ټولنو په ملاتړ د زیرمو جوړول، د نوي ټکنالوژۍ تطبیق او د اقلیمي بدلونونو په وړاندې مقاومت.

Threats ګواښ: د اقلیمي بدلون اغیز، ناڅاپي وچکالي او د تمویل نشتوالی.

**ګټې:**

✓ داوبو ضایعات کموي ځکه چې باراني اوبه په منظم ډول زیرمه کیږي.

✓ د وچکالۍ پر مهال د اوبو د کمښت مخنیوی، یعني د ذخیره سویو اوبو کارول.

✓ د محلي خلکو اقتصادي وده، ځکه چې د اوبو موجودیت به د زراعت او کرنې لپاره اسانتیاوې برابرې کړي.

✓ د اوبو د مدیریت لپاره د محلي خلکو ګډون، چې ټولنیز مشارکت او باور رامنځته کوي.

**تاوانونه:**

✓ د اوبو زیرمو جوړولو لګښتونه، په ځانګړې توګه په هغه سیمو کې چې ځمکه يې جوړولو لپاره مناسبه نه وي.

✓ د اوبو د زیرمو د ساتنې لپاره د تخنیکي مهارتونو اړتیا ، چې ممکن په ځینو سیمو کې لږ وي.

✓ د ټولنیزو شخړو احتمال، کله چې ټولنې په ګډه د اوبو منابع مدیریت کوي.

KPI: اوس وخت عصري اوبخور سیستمونه تر 1 سلنې دي چې تر 16 سلنې لوړول.

**د عصري اوبخور د سیستمونه طرحه Modern irrigation system plan:**

**خلاصه:** دا طرحه د افغانستان په کرنیزو سیمو کې د عصري اوبخور د سیستمونو لکه د څاڅـــــــــــکي اوبخور (Drip irrigation) او د سپرې اوبخور (Sprinkler irrigation) د تطبیق په موخه جوړه سوې ده. دا سیستمونه د اوبو د اغیزمنې کارونې او ضایعاتو د کمولو له پاره ځانګړې سوي دي.

**د طرحې سټایل: نوښت.**

**SWOT Analysis:**

Strengths ځواک: د اوبو د کارونې اغیزمنتیا، د حاصلاتو د تولید زیاتوالی او د کرنیز موثریت زیاتوالی.

Weaknesses کمزوري: لوړه ابتدایي بودیجه، د سیستم د ساتنې او تنظیم اړتیاوې.

Opportunities فرصت: د پرمختللې ټکنالوژۍکارونه، د کرنیزو عوایدو زیاتوالی او د کرنیزو محصولاتو کیفیت لوړول.

Threats ګواښ: د ساتنې اړتیاوې، د وسایلو تخنیکي ستونزې.

**ګټې:**

✓ د اوبو مصرف کموي، ځکه چې اوبه په مستقیم ډول نبات ته رسیږي او د ضایعاتو مخه نیسي.

✓ د کرنیزو محصولاتو تولید زیاتوي، ځکه چې اوبه په کنټرول کې وي او په اغیزمن ډول وېشل کیږي.

✓ د زراعت اقتصادي اغیزمنتیا، ځکه چې د اوبو مدیریت سره د تولید ښه والی رامنځته کیږي.

**تاوانونه:**

✓ د نوي ټکنالوژۍ د پلي کولو وړ لګښت، په ځانګړې توګه په هغه سیمو کې چې مالي سرچینې محدودې وي.

✓ د کرونده ګرو د روزنې اړتیا، تر څو چې دوی نوي سیستمونه په اغیزمن ډول وکاروي.

✓ تخنیکي ستونزې او د ساتنې اړتیا، چې کولای سي د سیستمونو اغیزمنتیا اغیزمنه کړي.

KPI: د هلمند ولایت اوبه اوس 20 سلنه کیفیت لري چې دا تر 30 سلنې لوړول.

**د سیندونو او اوبو د سرچینو د پاکولو او بیارغونې طرحه River and water resource restoration plan:**

**خلاصه:** دا طرحه د افغانستان د سیندونو او اوبو د سرچینو د ککړتیا د مخنیوي او د چاپېریالي وضعیت د ښه والي لپاره طرحه سوې ده ، دا د سیندونو د پاکولو ،د فاضله اوبو د تصفیې او د اوبو د سرچینو د بیارغونې لپاره ځانګړې سوې ده، تر څو د اوبو کیفیت ښه او د اوبو زیرمې وساتل سي.

**سټایل:** نوښتګرانه.

**SWOT Analysis:**

Strengths ځواک: د اوبو کیفیت ښه کول، د اقلیم او چاپېریال ساتنه، د حیاتي ایکو سیستمونو بیارغونه.

Weaknesses کمزوري: لوړ لګښت او د تطبیق لپاره زیات وخت غواړي.

Opportunities فرصت: د ایکو سیستم د د تنوع ساتنه، د اوبو کیفیت لوړول د ځايي معیشت لپاره د ملاتړ پراختیا.

Threats ګواښ: د اقلیمي بدلونونواغیز، د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو اغیز او د اوږدمهاله ساتنې لګښت.

**ګټې:**

- ✓ د اوبو د کیفیت ښه والی، په ځانګړي توګه د څښاک اوبو لپاره.
- ✓ د سیندونو د ایکو سیستم بیارغونه، چې د طبیعي زیرمو د ساتنې او چاپیریالي وضعیت د ښه والي لپاره مهمه ده.
- ✓ د عامه روغتیا ښه والی، ځکه چې پاکې اوبه د ناروغیو د خپریدو مخه نیسي.

**تاوانونه:**

- ✓ د تصفیې او بیارغونې دپرمختللو فابریکو لوړ لګښت چې ممکن په لیږي پرتو سیمو کې عملي سوی نه وي.
- ✓ د وخت اړتیا ، ځکه چې د سیندونو او اوبو سرچینو پاکول اوږدمهالي پروژې دي.
- ✓ د اوبو د کیفیت د څارنې او د ککړتیا د مخنیوي لپاره د منظمو څارونکو سیستمونو اړتیا لیدل کیږي.

KPI: عامه پوهاوی د 35 سلنې څخه 50 سلنې ته لوړول.

**د تقاضا مدیریت Demand management:**

**خلاصه:** د تقاضا مدیریت په هلمند ولایت کې د اوبو سرچینو موثره کارونه او ساتنه ده چې موخه یې د اوبو د منابعو څخه د عاقلانه او پایداره ګټه اخیستنه ده په دې پروسه کې هڅه کیږي چې د اوبو تقاضا د زراعت، کورنیو او صنعت لپاره په موثره توګه تنظیم سي، تر څو د اوبو د ضایعاتو مخه ونیول سي او د اوبو منابعو په سم مدیریت سره د اقلیمي بدلون اغیزي کمیدای سي.

سټایل: نوښتګرانه.

**SWOT Analysis:**

Strengths ځواک: د اوبو اغیزمن استعمال، د اوبو د اړتیاوو دقیق تحلیل، د کم مصرفي تګلارو ترویج.

Weaknesses کمزورې: د عامه پوهاوي کمښت، د ځایي اوسیدونکو د ملاتړ کمښت.

Opportunities فرصت: د عامه پوهاوي زیاتوالی، د اوبو د ساتنې او مدیریت لپاره نوي لارې او د سیاسي ملاتړ ترلاسه کول.

Threats ګواښ: د اوبو قیمت زیاتیدل، سیاسي بدلونونه او د تخنیکي ملاتړ نشتوالی.

**ګټې:**

- ✓ د اوبو د ضایعاتو مخنیوی.
- ✓ د اوبو د لګښتونو کمښت.
- ✓ د اوبو د کیفیت ښه والی.
- ✓ د اقلیمي بدلون اغیز کمول.
- ✓ د زراعت موثریت زیاتول.

**تاوانونه:**

- ✓ د اوبو دتقاضا د سم مدیریت لپاره د اوبو د اړتیا وړاندوینه کول اړینه ده. که اړتیا د اوبو سرچینو سره سمه نه وي د اوبو ضایعات زیاتوي.
- ✓ د سیستمونو پیچلتیا.
- ✓ د ټولنې ستونزې.

KPI: اوس مهال د اوبو مدیریت په مرکزي ډول ترسره کیږي چې باید تر 30 سلنه په غیري مرکزي ډول تغیر سي.

**د مرکزیت څخه غیري مرکزیت ته تګلاره decentralization:**

**خلاصه:** د اوبو سپماغیري مرکزي ته د انتقال یوه نوې تګلاره ده چې په دې کې د اوبو مدیریت د مرکزي ادارو پر ځای د محلي ادارو په کچه اداره کیږي. دا پروسه د ځمکې او سرچینو د پراختیا او د خلکو د اړتیاوو په اساس ترسره کیږي چې په ځینو حالاتو کې په خاصو سیمو کې د هغوی د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره تصمیم نیول کیږي.

سټایل : مشابه.

**SWOT Analysis:**

Strengths ځواک: د ځایي مدیریت د پیاوړتیا ظرفیت، د محلي اړتیاوو سره د تطابق اړتیا او د اوبو د تدارک لوړ انعطاف.

Weaknesses کمزورې: د زیاتو زیرمو اړتیا، د مدیریت لپاره د تخنیکي مهارتونو کمښت.

Opportunities فرصت: د ځایي خلکو د پوهاوي او مشارکت لوړول او د اوبو سرچینو د اغیزمن مدیریت لپاره مناسب فرصتونه.

Threats ګواښ: د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو اغیز او د تمویل کمښت.

**ګټي:**

- ✓ د اوبو منابع موثره کارول.
- ✓ د سیمي د خلکو ښکیلتیا.
- ✓ د اوبو د ضایعاتو کمول.
- ✓ اقتصادي ګټې چې کم لګښت لري.
- ✓ په محلي کچه د اوبو مدیریت او سپما کیږي.

**تاوانونه:**

- ✓ د منابعو نا برابري: د اوبو غیري مرکزیت ممکن د اوبو عادلانه وېش سبب سي.
- ✓ د مدیریت توانایي: ځیني سیمي کیداې سي چي کمه تجربه، پوهه او مهارت ولري.
- ✓ د لوړ لګښت احتمال:
- ✓ د حکومت محدود نظارت: د حکومت له خوا کم نظارت ممکن د اوبو غیري قانوني استعمال او ضایع سبب سي.

## پایله

په دې ډول د پورته پنځو طرحو د Alternative decision matrix په لاندي ډول دی:

Ratings:1) ډېر کمزوری (2یو څه کمزوری (3منځنی (4 یوڅه قوي (5ډېر قوي

Weights: 1) ټیټ (2منځنی (3لوړ

| متبادله طرحه<br>وزن?? | د ارزوني معیارونه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | اقتصادي موثریت | د اوبوسپما موثریت | تطبیق وړتیا | منطقي والی | غوره والی | total |
| عصري اوبخور سیستمونه | 5Rating=<br>Weight= 3<br>Total=15 | Rating= 5<br>Weight= 3<br>Total=15 | 5Rating=<br>Weight=3<br>5Total=1 | 5Rating=<br>Weight=3<br>5Total=1 | Rating= 4<br>Weight=2<br>Total=8 | 86 |
| د اوبو د زیرمو ساتنه | Rating= 4<br>3Weight=<br>12Total= | 4Rating=<br>3Weight=<br>2Total=1 | 5Rating=<br>Weight=3<br>5Total=1 | Rating= 4<br>Weight=3<br>Total=12 | 4Rating=<br>Weight=2<br>8Total= | 59 |
| د سیندونو پاک کاري | 3Rating=<br>3Weight=<br>9Total= | 4Rating=<br>3Weight=<br>2Total=1 | Rating=4<br>Weight=3<br>Total=12 | Rating= 4<br>Weight=3<br>Total=12 | Rating=3<br>Weight=2<br>Total=6 | 51 |
| د تقاضا مدیریت | Rating= 4<br>3Weight=<br>12Total= | 3Rating=<br>3Weight=<br>9Total= | Rating=4<br>Weight=3<br>Total=12 | 3Rating=<br>Weight=3<br>9Total= | Rating=3<br>Weight=2<br>Total=6 | 48 |
| غیري مرکزیت | 3Rating=<br>3Weight=<br>9Total= | 3Rating=<br>3Weight=<br>9Total= | 3Rating=<br>3Weight=<br>9Total= | 3Rating=<br>3Weight=<br>9Total= | 4Rating=<br>Weight=2<br>8Total= | 44 |

**د لګښت ګټې تحليل:**

(د هلمند اقتصادي پروفايل، 1389).هلمند ولايت چې ټول 1.2 ميليونه هکتاره ځمکه لري او د دې جملې څخه 382172 هکتاره ځمکه د کرنې وړ ده چې ددې ځمکې څخه د 15 سلنې يعني 57325.8 هکتاره ځمکې د لګښت ګټې تحليل د راتلونکو شلو کلونو لپاره په لاندې ډول دې:

لګښتونه يې : د زير بناوو موډرن کول: د خلاصو کانالونو بندول او د پايپونو سيستم جوړول مکمل 1.1 ميليونه ډالر(پايپونه او نښلونکې 400000 ډالر ، د پمپونو او فلټر سيستمونه 200000 ډالر، د کانالونو ساختماني چارې 250000 ډالر، د اتوماتيک سيستم او څارنې تجهيزات 150000 ډالر، ټرانسپورټ او لوژستيک 50000 ډالر او ټرينينګ او ساتنه 50000 ډالر)، د څاڅکې اوبو لګولو سيستم نصب: 3.5 ميليونه (د اوبو ذخيره او زيرمې 500000 ، نښلوونکې 700000 ، څاڅکي نلونه 800000 ، فلټر سيستمونه 300000، د اوبو پمپونه 400000، فشار او کنټرول اندازه کول 200000، اتومات کنترول سيستمونه 300000، ډيزاين او تخنيکي تحليل 50000 ، ساختماني کارونه، 100000، ټرانسپورټ او لوژستيک 50000 ، ټرينينګ او روزنه 50000 او اخر ساتنه او څارنه 50000)، د اوبو د سپما پمپونه او اتومات سيستم نصب: 880000 ډالر (فشار تنظيمونکي، 200000 ، متحرک د اوبو ټانکونه، 150000، اتوماتيک والونه 150000، څانګړي نازلونه 100000، د څارنې سيستمونه 150000، ډيزاين او تخنيکي څېړنه 50000، ساختماني کارونه 50000، روزنه او ساتنه 30000)، بزګرانو ته د اوبو د اهميت په اړه لارښووني کول 420000 ډالر (د چاپي موادو چمتو کول 60000، راډيويي او تلويزيوني خپروني 80000 ټولنيزي رسنۍ 50000 سيمنارونه او ورکشاپونه 100000، ساحوي تطبيقي ښوونه 50000، ګرځنده معلوماتي ټيمونه 40000، ټليفوني پيغامونه 20000، د ارزونه 10000 او د راپوررونو توليد 10000)او کلنۍ د مديريت مصارف 144000 زره (د پروژې د مدير معاش 40000، د تخنيکي ټيم معاشونه 30000، د څارنې او ارزونې فعاليتونه 20000، راپورونه او اسناد 15000، د دفتر او لوژستيک ملاتړ 15000، ساحوي سفرونه 10000، د روزنې او پرمختګ فعاليتونه 7000 او د سيستم د حل شکايتونه 7000)او مجموعي 2.88 ميليونه ډالر (د پروژې د مدير معاش 800000، د تخنيکي ټيم معاشونه 600000 ، د څارنې او ارزونې فعاليتونه 400000، راپورونه او اسناد 300000 ، د دفتر او لوژستيک ملاتړ 300000 ، ساحوي سفرونه 200000 ، د روزنې او پرمختګ فعاليتونه 140000 او د سيستم د حل شکايتونه 140000)چې ټوټل 8.78 ميليونه ډالر کيږي.

ګټې يې: که چيري په کلني ډول زموږ کرنيز توليدات 15 سلنه(غنم 30 سلنه، پنبه 25 سلنه، ميوه جات 25 سلنه او سبزيجات 20 سلنه) زيات سي چې په کال کې 10.42 ميليونه ډالر(غنم 3126000، پنبه 2605000، ميوه جات 2605000 او سبزيجات 2084000) او د شلو کلونو د 208.4 ميليونه ډالر(غنم 62520000، پنبه 52100000، ميوه جات 52100000 او سبزيجات 41680000) کيږي، په کلني ډول د 37200 ډالرو په ارزښت د زيربناوو د جوړښت مخنيوي(د معايناتو د ټيم ملاتړ 12000، د تجهيزاتو ترميم 10000، احتياطي وسايل او پرزې 7000، د اوبه بهيدنې کنترول 5000، څارنه او راپور ورکول او روزنه او عامه پوهاوي 3200) او د شلو کلونو لپاره 744000 ډالر کيږي چې په کلني ډول 1.3 ميلونه چاپيريالي ګټې(د اوبو د کيفيت ښه کول 400000، د خاورې د تخريب مخنيوي 300000، د کاربن د کمښت ګټې 200000، شين کمربند جوړول 200000، د حيات وحش خونديتوب 100000 او عامه پوهاوي او روزنيز پروګرامونه100000) او په شلو کلونو کې 26 ميليونه ډالر کيږي، چې په مجموعي ډول به يې 235.27 ميليونه ډالر ګټه کړې وي.

خالص ارزښت يې: دا چې موږ په شلو کلونو کې 235.144 ميليونه ډالر ګټه کړې ده او که خپل 8.78 ميليونه ډالر لګښتونه ترې منفي کړو، نو موږ به 226.364 ميليونه ډالر ګټه کړې وي. د نسبت د معلومولو لپاره ګټه پر لګښت باندې ويشو، چې جواب يې 25.78 دی، چې دا موږ ته راښيي چې د هر ډالر پانګوني په بدل کې موږ 25.78 ډالر ګټه ترلاسه کولای سو.

د تطبيق پلان:

لومړی مرحله 1-3 کاله: د زيربناوو لپاره تخنيکي او مالي سروې ترسره کول، د پايپونو او څاڅکو اوبو لګولو سيستمونو لپاره د لومړنيو تجهيزاتو پيرودل، د ځينې ازمايښتي سيمو لپاره سيستمونه نصبول او د بزګرانو لپاره د روزنې پيل.

دوهمه مرحله د 4-10 کاله: په پراخه پيمانه د پايپونو او څاڅکي اوبو لګولو نصب، د سپما پمپونو او اتومات سيستمونو نصب او د مديريت او څارنې د سيستمونو پياوړي کول.

دريمه مرحله 11-20 کاله: د ټول سيستم د پايښت ارزونه او د اړتيا پر مهال د تجهيزاتو نوي کول، د بزګرانو لپاره د اوبو مديريت دوامداره روزنه او د ګټو زياتولو لپاره د حاصلاتو څارنه او د بازار سره د محصولاتو تنظيم.

**مالي سرچينې Financial resource :**

- د ملي بودجې کارول.
- د نړيوالو موسسو او سازمانونو ملاتړ.
- د خصوصي سکتور ښکيلتيا.
- د محلي غيري دولتي موسسو مرسته.
- د کليوالو ټولنو او کرونده ګرو ونډه.
- بهرني تمويل.

د هلمند په شرايطو کې د عصري اوبخور سيستمونو تطبيق يوه مرحله يزه پروسه ده چې څو مهم ګامونه لري. لاندې به د تطبيق برخې جزييات تشريح سوي دي:

- د.1 مناسبو سيمو ټاکل.
- د.2 تخنيکي تجهيزاتو برابرول.
- د.3 سيستمونو نصبول.
- د.4 تخنيکي تنظيم او تنظيماتو ترسره کول.
- د.5 سيستمونو ساتنه او څارنه.
- د.6 کرونده ګرو تخنيکي روزنه.
- د.7 سيستمونو د اغيزمنتيا ارزونه.
- د.8 پاليسي په اوږدمهاله توګه تطبيق او پرمختګ.

**وړانديزونه**

د ارزونې د معيارونو له مخې (اقتصادي موثريت، د اوبو د سپما موثريت، د تطبيق وړتيا، منطقي والي او غوره والي) او زموږ د تحليل وروسته لومړۍ طرحه يعني د عصري سيستمونو نصب وړانديز کيږي، چې دا د اوبو سپما، اقتصادي موثريت او کرنيزو توليداتو په برخه کې زياتوالی راولي.

## اخځليکونه

1. دوديال، پوهاند محمد بشير، د اوبو اقتصاد.

2. هلمند عمومي حوزوي رياست ډاټا او ارقام.

3. د اوبو او انرژۍ وزارت رسمي ګڼه.

4. د افغانستان د اوبو سرچينې او د هغو اقتصادي، ټولنيز او سياسي اهميت). ۲۰۲۳ د مۍ ۳۱ .(د افغانستان د څېړنو نړيوال مرکز).

5. Abdul, J., Schaefli, B., & Lane, S. N. (2023). *Water resources of Afghanistan and related hazards under rapid climate warming: a review. 68*(3), 507–525. https://doi.org/10.1080/02626667.2022.2159411.

6. Afzali, R., Kamran Dastjerdi, H., Zibasaz Khoshmanzareh, S., Zaki, Y., & Yazdanpanah Dero, Q. (2022). Monitoring of water resources and vegetation in the Helmand Basin using satellite image time-series and border hydro-political challenges. *Water Policy, 24*(8), 1223–1246. https://doi.org/10.2166/wp.2022.280.

7. Armstrong, M. (2022, March 22). *Infographic: Where Water Stress Will Be Highest by 2040.* Statista Infographics. https://www.statista.com/chart/26140/water-stress-projections-global/.

8. Damla Kocatepe. (2024). THE HELMAND RIVER WATER DISPUTE BETWEEN IRAN AND AFGHANISTAN: HISTORICAL BACKGROUND, POTENTIAL RISKS AND PROPOSED SOLUTIONS. *Kafkas Üniversitesi Iktisadi ve Idari Bilimler Fakültesi Dergisi/Kaü-Iibf Dergisi, 15*(29), 308–333. https://doi.org/10.36543/kauiibfd.2024.012

9. *Infographic: Climate Change Adaptation in Afghanistan.* (2019). UNDP. https://www.undp.org/Afghanistan/publications/infographic-climate-change-adaptation-Afghanistan.

10. Malyar, I. (2023, March 22). *Managing Afghanistan's Water Crisis for Economic Resilience.* Alliance for Global Water Adaptation (AGWA). https://www.alliance4water.org/wr4er-cases/managing-afghanistans-water-crisis-for-economic-resilience.

11. Qureshi, A. S. (2002). *Water Resources Management in Afghanistan: The Issues and Options.* ResearchGate; unknown. https://www.researchgate.net/publication/42765588_Water_Resources_Management_in_Afgh.

12. *WATER RESOURCES PROFILE SERIES.* (n.d.). https://winrock.org/wp-content/uploads/2021/08/Afghanistan_Country_Profile-Final.pdf.

**Water conservation policy Helmand province of Afghanistan**

Mohammad yousufi[1*], Gul Ahmad ahmadi[2], Faiz Mohammad Faizi[3], Mohammad Iqbal[4], Shir Agha khpalwak[5], Khairullah muzamil[6] and Abdulhanan agha[7]

[1,2,3,4,5,6,7]Students of BBA Department, Economic Faculty, Bost University

Corresponding Author Email: yousufimohammad66@gmail.com

## Abstract

Helmand's natural resources, particularly water, hold immense value. However, in recent years, the impacts of climate change have significantly increased, leading to a decrease in water resources. Additionally, the lack of public awareness and the government's weak and inefficient management have further contributed to the depletion of water levels. As a result, farmers, industrialists, livestock owners, and households have been adversely affected. To address this issue using a triggering mechanism with criteria focused on economic efficiency, water conservation efficiency, implementation, rationality, and applicability, we propose the following goals: protecting water resources, preventing waste, improving water quality, reducing the effects of climate change, raising public awareness, and achieving several other objectives. To meet these goals, we have outlined five strategies: 1.increasing water resource reserves .2.installing modern irrigation systems 3.cleaning Rivers and water source.4. Demand management and 5.decentralization. Among these strategies, the installation of modern irrigation systems has proven to be particularly effective in terms of efficiency and water conservation therefore, we recommend the implementation of this policy and strategy by 2044.

**Keywords:** water, conservation, management, alternative policy and SWOT analysis

# BOST

Academic & Research National Journal

Volume: 3

Issue: 2

Year: 2025